لیکوال: ډاکټر مراد بوفولة
ترجمه: محمد عارف رسولي

۲۰۲۶/۰۶/۱۰

# د تمدني رنسانس په تولنپوهنه کې د عادل (غبرګون وال/فعال) انسان جوړونه

## د مالک بن نبي له افکارو څخه الهام اخیستل شوی لیدلوری

## سریزه

که تمدن په خپل جوهر کې یو انساني جوړښت وي، نو لومړۍ پوښتنه چې هر نهضتي او رنسانس پلوه پروژه یې باید مطرح کړي دا نه ده چې: موږ څنګه بنسټونه جوړ کړو؟ یا موږ څنګه اقتصادي پراختیا ترلاسه کړو؟ بلکې دا ده :**موږ د څنګه انسان جوړول غواړو؟**

په تاریخ کې بېدارو او هڅاندو ملتونو دا درک کړې وه چې انسان په هره تمدني پروژه کې د پیل ټکی دی، او د ابادۍ او عمران کیفیت له هغه انساني کیفیت سره مستقیمه اړیکه لري چې دا عمران رامنځته کوي. له همدې امله، د سترو مصلحینو پام د شیانو پر ځای ډېر پر هغه انسان متمرکز و چې د شیانو د تولید او هغو ته د لوړو موخو لور ته د لاربښوونې وړتیا ولري.

په دې برخه کې، مالک بن نبي یو ژور لیدلوری وړاندې کوي چې انسان د تمدن په معادله کې لومړنی رکن ګڼي. هغه په دې باور دی چې نهضت او بېداري د مادي وسایلو له ډېرښت څخه نه، بلکې د انسان له کلتوري، اخلاقي او فکري بیاځلي رغونې څخه پیلېږي. انسان په خپل لومړني حالت کې حتماً یو تمدني انسان نه وي، بلکې یوې هراړخیزې رغندې پروسې ته اړتیا لري ترڅو هغه له یو «خام فرد» څخه په یو «فعال او اغېزمن انسان» بدل کړي، چې د تاریخ په جوړولو کې د ونډې اخیستو وړتیا ولري.

له همدې ځایه، د **«عادل (فعال) انسان»** په اړه د خبرو ارزښت په ډاګه کېږي؛ د داسې یو انساني ماډل په توګه چې په هغه کې د فکر، اخلاقو، ښکلا، عمل او ټولنیزو اړیکو عناصر سره یوځای کېږي، ترڅو وکولای شي تمدني اغېزمنتیا ترلاسه کړي او په ټولنه کې خپله عمراني او رغونکې دنده ترسره کړي.

## لومړی: له خام فرد څخه تر ټولنیز منلي (سازګار) فرد پورې

انسان چې کله پیدا کېږي، د یو لړ فطري چمتووالو او پټو وړتیاوو لرونکی وي، خو هغه د کلتور په لرلو، یا د ټولنیز مسؤلیت او تمدني رسالت په درک کولو سره نه زېږېږي. له همدې امله، هغه په دې پړاو کې د **«خام فرد»** په توګه یادولای شو؛ یانې هغه لومړنی انساني ماده چې لا تر اوسه په یو منظم کلتوري او ټولنیز چوکاټ کې نه ده بنه شوې.

له خام فرد څخه ټولنیز منلي (سازګار) فرد ته لېږد، د تمدني ودانۍ لومړی ګام دی. ټولنه یوازې د افرادو په بیولوژیکي شتون بسنه نه کوي، بلکې هڅه کوي هغوی په خپل ارزښتي او کلتوري نظام کې مدغم کړي ترڅو وکولای شي له خپل چاپېریال سره مثبت تعامل وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دلته کورنۍ، ښوونځی، جومات او نور بېلابېل ټولنيز روزنيز بنسټونه مداخله کوي ترڅو د انسان شخصيت جوړ کړي، د هغه چلند ته لاره وښيي او هغه ارزښتونه او معيارونه پکې وکري چې د ګډ ژوند او د ټولنې په جوړولو کې د ګډون زمينه ورته برابروي.

ټولنيز منلی فرد هغه څوک دی چې د نظم درناوی زده کوي، د مسؤليت احساس ترلاسه کوي، د ډله ييز کار پر ارزښت باور پيدا کوي او په دې پوهېږي چې د هغه شتون يوازې د شخصي ګټو په ترلاسه کولو پورې محدود نه دی، بلکې تر دې ورهاخوا د عامه ګټو په خدمت او د عمران او ابادۍ په ترلاسه کولو کې هم دی.

د تمدني رنسانس د ټولنپوهنې له نظره، دا پړاو د تمدن په جوړولو کې لومړی قانون دی؛ ځکه چې د يو داسې انسان له توليد پرته چې په خپله ټولنه کې د هوښيار ادغام وړتيا ولري، د يوې فعالې ټولنې رامنځته کول ناممکن دي.

## دوهم: کلتوري لارښوونه او د تمدني شخصيت جوړول

وروسته له دې چې فرد د ټولنيز ادغام لپاره چمتو شي، يو ډېر ژور پړاو پيلېږي چې هغه «**کلتوري لارښوونه**» ده. لارښوونه لکه څنګه چې مالک بن نبي تعريف کړې ده: «په هڅه او وخت کې سپما کول دي».

له کلتوري لارښوونې څخه مرست داسې يوه پروسه ده چې د هغې له لارې د نړۍ په اړه د انسان ليدلوری ټاکل کېږي او د ارزښتونو او معيارونو هغه نظام رامنځته کېږي چې د هغه چلند او انتخابونه اداره کوي. کلتور يوازې پوهه يا د معلوماتو زېرمه نه ده، بلکې هغه مرجعي چوکاټ دی چې د فکر کولو، کار کولو او له واقعيت سره د تعامل لاره ټاکي.

مالک بن نبي کلتوري لارښوونه د تمدني انسان د جوړولو بنسټيزه وسيله ګڼلې ده؛ ځکه چې دا ارزښتونه د مجردو افکارو له کچې څخه د ورځني چلند کچې ته لېږدوي.

يو رغيدونکی او پياوړی کلتور، بېدار او هڅاند انسان توليدوي؛ او يو شاته پاتې کلتور داسې انسان توليدوي چې د تمدني عمل وړتيا نه لري، که څه هم هغه هر څومره مادي يا علمي امکانات ولري.

له همدې امله، د رنسانس او بېدارۍ جګړه په خپل جوهر کې يوه کلتوري جګړه ده چې د شيانو له جوړولو وړاندې د انسان جوړول په نښه کوي.

## درېيم: د فکر اصلاح او د عقل ازادي

فکر هغه قطب‌نما ده چې په ژوند کې د انسان حرکت ته لوری ورکوي، له همدې امله د فکر اصلاح د عادل (فعال) انسان په جوړولو کې يو بنسټيز شرط دی.

هغه انسان چې د خرافاتو، د ړندو سترګو د تقليد يا فکري تړاو په بند کې ژوند کوي، نشي کولای د تمدن په جوړولو کې مرسته وکړي؛ ځکه چې هغه د واقعيت د پوهيدو، د ستونزو د تشخيص او د هغو لپاره د مناسبو حل‌لارو د توليد وړتيا له لاسه ورکوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له همدې امله، مالک بن نبي د مسلمان عقل د «استعمار منلو» (القابلية للاستعمار) او د فکري عجز له بيلا بيلو بڼو څخه چې د تمدني اغېزناکتيا مخه نيسي، د ازادولو غوښتنه وکړه.

د فکر اصلاح د کره او نقدګر شعور د پراختيا، له واقعيت سره د پوهې د تړلو او د تاريخ او ټولنې پر حرکت باندې د حاکمو سنتو (قوانينو) د لټون په لور د عقل په لارښوونې سره ترلاسه کېږي. ځکه نو عادل (فعال) انسان هغه څوک دی چې په سمه توګه د کار کولو وړاندې، په سمه توګه فکر کوي.

### څلورم: د جمالياتي حس او ذوق اصلاح

تمدن يوازې په مادي يا فکري اړخ پورې محدود نه دی، بلکې په هغه جمالياتي او هنري ذوق کې هم څرګندېږي چې د افرادو او ټولنو ژوند ته بڼه ورکوي.

څوک چې له ښکلا سره روږدي شي، له نظم سره روږدي کېږي؛ او څوک چې له نظم سره روږدي شي، د لاسته راوړنو او خلاقيت ډېره وړتيا پيدا کوي. له همدې ځايه، مالک بن نبي جمالياتي لارښوونې ته د انسان د تمدني جوړښت د يو عنصر په توګه خورا لوی اهميت ورکړی دی.

ښکلا کومه تجملاتي يا اضافي خبره نه ده، بلکې يو تمدني ارزښت دی چې په معمارۍ، لباس، خبرو اترو، ټولنيزو اړيکو او د ورځني ژوند په ټولو جزيياتو کې منعکس کېږي. کله چې جمالياتي ذوق خراب شي، ګډوډي خپرېږي او د نظم احساس کمزوری کېږي، چې په پايله کې د ټولنې تمدني فعاليت شاته ځي.

### پنځم: د اخلاقي حس اصلاح او د تمدني وجدان رغونه

که فکر انسان ته د سمې لارې پېژندلو لارښوونه کوي، نو اخلاق ورته پر هغې باندې د ودرېدو او ژمنتيا ځواک ښيي.

تمدنونه يوازې په مادي ځواک پايښت نه مومي، بلکې هغه مهال دوام کوي چې ارزښتونه د افرادو د دِله ييز وجدان برخه وګرځي. له همدې امله، مالک بن نبي د ريښتينولۍ، امانتدارۍ، عدالت، احسان او د دندو د درناوي پر بنسټ د اخلاقي احساس پر جوړولو ټينګار کړی دی.

عادل (فعال) انسان يوازې هغه فرد نه دی چې قانون ته ژمن وي، بلکې هغه داسې يو انسان دی چې يو کورنی (داخلي) څارونکی (رقيب) لري چې د بهرنۍ څارنې په نشتوالي کې هم هغه له ظلم څخه منع کوي. له دې ځايه، اخلاق د ټولنې د غړو ترمنځ د ټولنيز باور، ثبات او همکارۍ د رامنځته کولو لپاره يو تمدني او توليدي ځواک ګرځي.

## شپږم: د عملي منطق کښت او په لاسته راوړنو د افکارو بدلول

د تمدني وروسته پاتې والي يو له خورا څرګندو نښو څخه د وينا او عمل ترمنځ د واټن شتون دی. ډېری ټولنې افکار، اصول او شعارونه لري، خو د هغو په عملي واقعيت بدلولو کې عاجزې دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

له همدې امله، مالک بن نبي د داسي یو عملي منطق د رامنځته کولو غوښتنه وکړه چې انسان د افکارو ارزښت په واقعیت کې د هغو د اغېز د تولید د کچې له مخې اندازه کړي. عادل (فعال) انسان یوازې د دندې په پېژندلو بسنه نه کوي، بلکې د هغې د سرته رسولو هڅه کوي؛ او یوازې د خیر په غوښتلو بسنه نه کوي، بلکې د هغه د ترلاسه کولو لپاره کار کوي.

عملي منطق کلتور له ذهني تصور څخه په چلندیزو نمونو او بیا په معیاري ارزښتونو بدلوي، اراده په لاسته راوړنه بدلوي او پټې انرژۍ په تمدني پروژو اړوي.

### اووهم: د ټولنیزو اړیکو شبکه او د تمدني پانګې رغونه

تمدن د جلا جلا افرادو لخوا نه جوړېږي، بلکې د ټولنیزو اړیکو د هغې پیاوړې شبکې په واسطه جوړېږي چې د ټولنې غړي سره تړي. مالک بن نبي درک کړې وه چې د ټولنې اغېزمنتیا تر ډېره حده د هغې د غړو ترمنځ د شته اړیکو په نوعیت پورې اړه لري.

هرڅومره چې د باور، همکارۍ، پیوستون او ګډ مسؤلیت کچه لوړه شي، د ټولنې د لاسته راوړنو او پرمختګ وړتیا هغومره زیاتېږي. مګر کله چې انفرادیت (ځانپالنه)، شخړې او تنګې ګټې واکمنې شي، د ټولنې تمدني انرژي له منځه ځي، که څه هم هر څومره سرچینې ولري.

له همدې امله، عادل (فعال) انسان هغه انسان دی چې پلونه جوړوي نه دا چې هغه ورانوي؛ انرژۍ راټولوي نه دا چې هغې تیت او پرک کړي؛ او په دې باور دی چې د ټولنې ځواک د هغې د ټولنیزو اړیکو له پیاوړتیا څخه سرچینه اخلي.

## اتم: دیني فکر؛ د تمدني انرژۍ سرچینه

دیني فکر د مالک بن نبي په پروژه کې هغه عنصر دی چې د تمدن بیلا بیلو عناصرو ته داخلي یووالی او د هغوی تر ټولو لوړه موخه ښیي. دا فکر انسان له لوړو ارزښتونو سره تړي، د هغه شتون ته مانا ورکوي او هغه ته دا وړتیا ورکوي چې د تمدني رسالت د خدمت په لور له خپلې شخصي خودخواهۍ (انانیت) څخه تېر شي.

کله چې دیني فکر د چلند، کار او خلاقیت د حرکت په ځواک بدل شي، نو دا د تمدني انرژۍ سرچینه ګرځي چې ټولنه د بیدارۍ او پرمختګ په لور هڅوي. له همدې امله، په تاریخ کې ټول ستر تمدنونه په خپلو پیلونو کې له یو فکري محور سره تړلي وو چې هغوی ته یې معنا او لوری ورکاوه.

## نهم: عادل (فعال) انسان او د تمدني اغېزمنتیا ترلاسه کول

تمدني اغېزمنتیا د ټولو پخوانیو رغونکو پروسو وروستۍ مېوه ده. عادل (فعال) انسان هغه انسان دی چې کلتوري لارښوونې د هغه د فکر، ذوق، اخلاقو، کار او ټولنیزو اړیکو په جوړولو کې د یو بشپړ تمدني لیدلوري سره سم بریا ترلاسه کړې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه داسې انسان دی چې په سمه توګه فکر کوي، په سالمه توګه احساس کوي، په تولیدي توګه کار کوي او له خپلې ټولنې سره په مثبت ډول تعامل کوي. په دې توګه، هغه په ټولنه کې له یو عادي اوسېدونکي څخه په یو داسې فعال ځواک بدلېږي چې د عمران په جوړولو او د رنسانس په ترلاسه کولو کې ونډه اخلي.

**پایله**

د تمدني رنسانس د ټولنپوهنې له نظره، یو عمومي قانون یا سنت داسې تشریح کېدای شي:

**«د عمران او ابادۍ سمون د انسان له سمون څخه دی، او د تمدن اغېزمنتیا د تمدني شخصیت له موثریت څخه ده.»**

هرڅومره چې ټولنه د خام فرد په ټولنیز منلي فرد، او بیا په کلتوري لاربنود شوي انسان، او په نهایت کې په عادل او فعال انسان په بدلولو کې بریالۍ شي، د تمدن د تولید او پایښت وړتیا یې هغومره زیاتېږي. او کله چې دا پروسه ودرېږي، تمدني اغېزناکتیا کمزورې کېږي، که څه هم هر څومره سرچینې او امکانات شتون ولري.

له همدې امله، د ریښتیني رنسانس پروژه له انسان وړاندې د شیانو د جوړولو پروژه نه ده، بلکې د هغه انسان د جوړولو پروژه ده چې د شیانو جوړول او د هغوی سم لوري ته بیول په ښه توګه ترسره کولای شي. عادل (فعال) انسان د تمدن تر ټولو ستره پانګه ده، د هر تمدني الوت (پرواز) لومړی شرط دی، او هغه وروستۍ موخه ده چې د ښوونې او روزنې، کلتور او ټولنیز اصلاح بیلا بیلې پروسې ورته متوجه دي. ځکه نو، د عادل (فعال) انسان جوړول د تمدني رنسانس د ټولنپوهنې یو له بنسټیزو سننتو (قوانینو) څخه ګڼل کېدای شي؛ ځکه چې دا هغه پُل دی چې امت د شاته پاتې والي له حالت څخه د تمدن منلو حالت ته ورباندې تېرېږي.



د ښاغلی محمد عارف رسولی نور مضامین په دی لینک کی لوستی شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ